# د باچا خان کتاب ''زما ژوند او جدوجهد'' کښې پښتني کلچر او فولکلور

# Pashtun Culture and Folklore in Bacha Khan's book. "ZAMA JWAND AW JADO JEHD"

Paghunda Mukhtiar*
Email: baryo1992@gmail.com
Dr Farkhanda Hayat**
Email: farkhanda@uop.edu.pk

Issn 2304-1463

**ABSTRACT:**

The Culture and Folklore of Pashtuns has its own charm and characteristics Pashtun culture is very rich and diverse heritage shaped by centuries of history, tradition and Islamic beliefs.Pashto folklore represents the distinct Pashtun Culture and characteristics of Pashtun men and women Pashto folklore is a rich oral tradition that includes song, tales, mataluna, riddle, tappa, and poetry. Bacha khan shown in his book "**Zma Jwand Aw Jado Jehd**" that how highlighting to unite Pashtuns for freedom, their customs traditions, education. He is a true nationalist that why mentioned all the cultural and folkloric stories of Pashtun life in his book.. He was deeply aware of the power of his people's oral tradition.

**Key Words :** Culture, Folklore, characteristics, history, highlighting, freedom

باچا خان په خپل کتاب '' زما ژوند او جدوجهد'' کښې د خپل ژوند ټولې هلې ځلې لیکلې دي. باچا خان د چارسدې اتمانزو اوسېدونکے وۀ چې د اشنغر په مېنځ کښې اباده لويه علاقه ده. باچا خان په دې ژوند ليک کښې هغه ټول کليوال ژوند او رنګونه شامل دي کوم چې د يو پښتون شناخت وي.

باچا خان په دې ژوند ليک کښې هغه ټول پښتني اقدار راټول کړي دي کوم چې د پښتني معاشرې عکاسي کوي. د خپل چاپېرچل ، رسم و رواج ، غم ښادي ، دود دستور، جامه پېزار او روايات ئې رامخې ته کړي دي.

دغه شان د پښتنو کلچر او فوکلور ئې هم په ښۀ نه ښۀ شکل کښې ذکر کړي دي. زما ددې مقالې عنوان نه چې څنګه ظاهره ده چې ''زما ژوند او جدوجهد'' کښې پښتون کلچر او فولکلور ځاے په ځاے په ډېر ښکلي او اسان الفاظو کښې موجود دے. نو ځکه په دې موضوع د بحث کولو نه وړاندې به دا واضح کول ضروري وي چې کلچر او فولکلور څۀ ته وائي او په پښتني

* Ph.D Scholar Pashto Academy U.O.P
** Director Pashto Academy U.O.P

معاشرې کښې ددې څومره اهمیت او ضرورت دے۔

کلچر :- کلچر د انګرېزي ژبې لفظ دے۔ په اردو کښې ورته ثقافت یا تهذیب وئیلے شي او په پښتو کښې کلچر ته کلتور وئیلے شي۔

'' کلچر د انګرېزي ژبې لفظ دے چې د لاطیني ژبې Culture نه جوړ دے۔ لفظ Culture د Colere نه وتے دے او ددې معنی ده کاشت کول ، کرل ، نالول ، زمکه جوړول ، هوارول، بنۀ نه بنۀ تخم اچول او د پېداوار تر مخه د هغې بنۀ نه بنۀ پالنه کول۔ ''[1]

کلچر زمونږ د ژوند ژواک د ټول طرز عمل د مظاهرې نوم دے۔ زمونږه استوګنه، جامه پېزار ، علم و ادب ، ناسته پاسته ، خوراک څښاک ، قول و فعل دا ټول د کلچر او ثقافت احاطه کوي۔

احمد پراچه په خپل کتاب کښې لیکي :

"کلچر کی اصطلاح ایک جغرافیائی خطے کی لوگوں اور ایک خاص مخصوص قوم کہلانے والے لوگوں کے طرز زندگی کے حوالے سے بہت جامعت قسم کی چیز معلوم ہوتی ہے۔ ویسے یہ بھی درست ہے کہ لفظ کلچر کی تعریف اسی قدر آسان اور سادہ ہے جتنی کہ یہ مشکل اور پیچیدہ ہے۔ بہرحال کلچر واقعی طرز زندگی ہی کا نام ہے۔ کلچر نام ہے ان معیارات کا جو زندگی کی ضروریات کی شہادت مہیا کرتے ہیں اور یہ شہادت لوگوں کے اعتقادات اور قدروں کے ضمن میں ان کے بیانات کے ذریعے ملتی ہے۔۔۔۔۔۔ جغرافیہ دانوں کے نزدیک اپنی سرزمین کو جس انداز میں منظم کیا جاتا ہے۔ وہ کلچر ہے عمومی طور پر ایک خاص آبادی کے لوگوں کے طرز حیات، طرز عمل جو وہ حالات و واقعات سے سیکھتے ہیں اور دوسرے لوگوں کے ساتھ برتتے ہیں اور اپنے بعد آنے والی نسلوں کو منتقل کرتے ہیں یا مذہب، طرز تعمیر، موسیقی، کھانے کی روایات وغیرہ یہ سب کلچر یا کلچر کا حصہ ہیں۔ کلچر لوکوں کے اعتقادات مذہبی، سیاسی اقدار ، اداروں کے انداز و اطوار، مہارتوں اور ساز وسامان اور ان کے استعمال کے انداز کا احاطہ کرتا ہے۔ "[2]

کلچر د انساني ژوند په روزمره معاملاتو کښې استعمالېږي هغه ټول څیزونه او د رسم و رواج نوم دے او په کلچر کښې د هغه ټولو اقدارو خیال ساتلے شي کوم چې د ژوند سره تعلق لري۔

ډاکټر سلمٰی شاهین لیکي :-

'' په ثقافت کښې هغه ټول عقائد ،علوم ،فنون ،اخلاقیات ، تهذیب ، قانون، رسم و رواج او د انسان هغه کلهم صلاحیتونه او عادتونه شامل دي کوم چې یوې انساني معاشرې د غړي منضبط آئین په حېثیت اختیار کړے او قبول کړے وي۔ ثقافت د انساني معاشرې روح دے۔ ددې تعلق په افرادو براه راست هم وي او بلا واسطه هم۔

ددې مظاهره د انسان طرز معاشرت طرز فکر په ژوند کښې د روزمره تعلقاتو ، ارټ ، ادب ، عقائد ، تفریح او نورو دلچسپو په ذریعه کېږي - چې اصلاحاً د ثقافت په نوم یادېږي - ''[3]

د انسان د خپل سوچ و عمل او فکرونه چې د هغه ژوند ضروریات پوره کوي او هغۀ ته اسانئ پېدا کوي د یو ښۀ کلچر نخښه ده - کلچر د انساني ژوند ژواک داسې مجموعه ده چې هغه نسل در نسل یو بل ته منتقل کېږي -

ډاکټر مبارک علي د کلچر تعریف داسې کوي -

'' لفظ کلچر موجوده معنٰي په ارتقائي توګه اختیار کړه کله چې د کلچر توري په اتلسمه صدئ کښې راغے نو هغه وخت ددې مطلب په Agriculture یا Horticulture ( د ګلونو میوؤ او سبزو کرلو فن او مطالعه) کښې د کاشت کولو ، نالولو او ښۀ کولو اخستے کېدو - په نولسمه صدئ کښې ددې مطلب د یو وګړي ، ښۀ والے بهتري او ترقي په خصوصي توګه د تعلیم په ذ ریعه د نولسمې صدئ په نیمائي کښې څۀ سائنسدانانو د کلچر لفظ په افاقي ډول د پوره انسانیت دپاره استعمال کړو - هم په نولسمه صدئ کښې په جرمني کښې Culture یعنې کلتور لفظ رواج اوموندو-''[4]

## فولکور (Folklore)

پر وفېسر داور خان داؤد د فولکلور معنٰی داسې بیانوي -

'' فولکلور Folklore د انګرېزئ ژبې یوه مرکبه کلمه ده چې دوؤ کلمو Folk او Lore نه جوړه ده - د فوک لغوي معنٰی ده اولس یا خلق - د لور لغوي معنٰی ده پوهه یا زده کړه - دا شان د فولکلور ددې مرکب کلمې معنٰیی شوه د خلقو یعنی اولس زده کړه یا پوهه -''[5]

فولکلور په اجتماعي سطح باندې هغه ټول اقدار، احساسات دي کوم چې ژوند سره تړلي دي - شفیع الرحمٰن اپریدي لیکي :

'' فولکلور لفظ د دوه لفظونو نه جوړ دے - فوک او لور - په فولکلور لفظ کښې وړومبے لام(ل) خاموش دے یعنې دا فولکـ نۀ شي وئیلے بلکې فوک وئیلے شي - د فوک معنٰی ده خلق ، یوه ډله ، یو ګروپ ، یو ټولګے یا اولس او د لور معنٰی ده زده کړه ، پوهه ، علم یا معلومات اوس د فولکلور معنٰی داسې جوړېږي چې د خلقو په حلقه کښې زدکړه ، د یوې ډلې په اړه پوهه، د یو ګروپ په حلقه علم یا اولس په حلقه

علم ، د يو ګروپ يا د خلقو په باره کښې علم ، پوهه يا زده کړې ته فولکلور وئيلے شي۔"[6]

کلچر او فولکلور د اولسي ادب برخه ده۔ هغه ادب چې د انسان د خيالاتو، احساساتو، تجربې او مشاهدې عکاسي کوي داسې علم ، فن او پوهې ته اولسي ادب او عوامي ادب وائي۔ فولکلور هم داسې علم دے۔

ډاکټر بشرٰی خاتون په خپل کتاب کښې فولکلور داسې بيانوي :

"په فولکلور کښې هغه ټول علمونه راځي کوم چې د يو نسل نه بل نسل ته سينه په سينه منتقل شوي وي۔ په فولکلور کښې فوک فن ،فوک دستکاري، اوازار ، جامه پېزار ، رسمونه، رواجونه ، عقائد ، طب د خوراک او اخلي پخلي طريقې ، موسيقي، ګډا ، روايتي لوبې او هغه ټولې اشارې او خبرې هم شاملې دي چې مونږ ورته د اولسي ادب په ځاے د لفظي فن يا Verbalast نوم ورکولے شو۔

يو امريکنے فولکلوريسټ B.A. Botkin وائي چې :

خالص زباني کلچر کښې هر څۀ ته فولکلور وائي۔"[7]

د انسان د پېدائش نه واخلې تر مرګه پورې هغه ټول واقعات ، احساسات ، دود دستور، فولکلوري شکل اختياروي۔ ټپه ، چاربېته ، نمکۍ ، بګټۍ ، سندرې ، متلونه، ساندې وغېره دا ټول د فولکلور حصه ده۔ بلکې مناسب وئيل به دا وي چې په ادبياتو کښې څومره صنفونه دي هغه ټول په فولکلور کښې شامل دي۔

په پښتنه معاشره کښې د کلچر او فولکلور ضرورت او اهميت :-

د پښتنې معاشرې کلچر او فولکلور ډېر وسيع دے که د تاريخ په حواله خبره اوکړو نو په دنيا باندې بې شمېره څرګنده پښتنو حاکمانو خپل نام و نشان پرېښودے دے او خپله پېژندګلو ئې دنيا ته ښودلې ده۔

د دنيا د نورو مذاهبو او قومونو په شان د پښتنې معاشرې هم خپل کلچر او فولکلور دے او خپل خپل خصوصيات لري۔

ډاکټر هدايت الله نعيم ليکي :=-

"د فولکلور او کلچر رشته هم يو بل سره د نوک او اورۍ ده۔ مختلف عوامل لکه جغرافيه، نسل، تاريخ ، مذهب او مالي او معاشي حالات وغېره داسې دي چې د ژوند د صورت په جوړښت يا د فولکلور په تشکيل کښې خاص لاس لري او همدغه

ځېزونه دي چې بالواسطه د معاشرې او افرادو د اجتماعي او انفرادي مزاج او ترجیحاتو، کمزورو ، مجبورو او ځنې خاصو او خوبو پته ترې لګېدے شي او که ددې ځېزونو یوه دقیقه مشاهده او ژوره مطالعه اوشي نو د هغه مستقلو او عارضي عواملو درک بیا موندے کېدے شي د کومو نه چې یو ژوند ژوا یعنې کلچر صورت اخلي۔"[8]

ددې نه علاوه د کلچر او فولکلور په لړ کښې ډاکټر بشرٰی خاتون په خپل کتاب کښې لیکي :

"فولکلور او ثقافت په عمومي توګه یو ځیز ښکاري۔دا په یو بل کښې داسې ننوتي دي چې په ډېرو ځایونو کښې پکښې فرق کول ګران شي۔ثقافت او فولکلور په یو بل انحصار کوي ۔ د ثقافت مثال د چهت دے چې د ژوندادانه پرې ولاړه ده او د فولکلورمثال ددې چهت ستنې دي ۔ ثقافت د ټول ژوند احاطه کوي او فولکلور د ژوند ځنې اړخونو سره تعلق لري۔ د پېداوښت نه واخله تر مرګه پورې د ژوند ژواک هره مرحله زمونږ د ثقافت عکاسي کوي۔ مونږ د پېداوښت نه واخله تر مرګه پورې د خپل مخصوص ثقافت مطابق ژوند تیروؤ ۔ ثقافت نسبتاً یوه لویه اصطلاح ده چې فولکلور په منځ کښې ځان سره رانغاړي۔فولکلور که جز دے نو ثقافت کل دے۔ځیز یو دے ۔ په دې وجه مونږ فولکلور ته ثقافت او ثقافت ته فولکلو وئیلے شو ۔ فولـکلور د ثقافت د محفوظولو یوه آله ده اوثقافت دفولکلورداظهار یوه طریقه ده۔"[9]

د فولکلور او کلچر د اهمیت په حواله که مونږه خبره اوکړو نو دا دواړه یو بل سره لازم و ملزوم ځېزونه دي۔ که مونږه د یو قام د کلچر جائزه اخلو نو د هغې دپاره ضروري ده چې اول د هغه قام د تاریخ او فولکلور مطالعه اوکړې شي۔د کلچر او فولکلور تخلیق کول صرف د انسان خاصیت دے ځکه چې الله تعالٰی ځناورو له دا خاصیت نۀ دے ورکړے چې هغوي دې د خپلې معاشرې وجود جوړ کړي۔

ډاکټر بشرٰی خاتون لیکي :

"د خلقو د ننني ژوند بیان د سبا تاریخ دے۔هم دغه د خلقو د نن کړۀ وړۀ د سبا علم بشریات د خلقو د نن اغوستنې لوښي او کلي د سبا آثار قدیمه دي او د خلقو د ناستې پاستې او وخت تیرۍ لاشعوري انداز د یو ماهر نفسیات دپاره د دوئي د خوئي بوئي د معلومولو په لړ کښې پوخ مواد دے اوس دا اندازه لګول ګران نۀ دي چې فولکلور

ځومره اهميت لري . په وخت ددې د راغونډولو او د کوټلو اصولو سره سم د موجوده ټولو سائنسي سهولتونو دې لړ کښې د پکار راوستلو مطلب به دا وي چې يو خو به د خلقو د ژوند ژواک صحيح او شفاف صورت او تصوير محفوظ شي او بله دا چې د نورو علومو لکه نفسيات ، بشريات ، علم انسانيات او علم تاريخ نه علاوه آثار قديمه له به هم صحيح مواد او قابل يقين معلومات خوندي شي . صحيح مواد او قابل يقين معلومات د يو علم په پرمختګ او د انساني ژوند په نور ښۀ کولو او قومونه د خوشحالۍ او سوکالۍ په بام خيژولو کښې په هرلحاظ نيغ په نيغه لاس لري''[10]

## زما ژوند او جدوجهد '' کښې پښتني کلچر او فولکلور

د باچا خان ژوند ليک '' زما ژوند او جدوجهد '' د باچا خان د ژوند د سياسي، معاشرتي او سماجي هلو ځلو نه علاوه د پښتنې معاشرې د کلچر او فولکلور مجموعه ده . د باچا خان پېدائش د يو درنې پښتنې کورنۍ کښې شوے وۀ چې په خپل وخت کښې په خپل کلي اولس کښې په خانۍ ياد وو . نو ځکه باچا خان ژوند ژواک ټول د يو سوچه کليوال پښتون وۀ او دا پښتني رنګ د هغوي په کتاب ''زما ژوند او جدوجهد '' کښې ځرګند دے .

باچا خان ليکي :-

'' ژوند بالکل ساده او بې تکلفه وۀ په ناسته ولاړه کښې ډېره ټيټه پيټه نۀ وه . جامې ساده او د وطن جوړې وې د خپل وطن شډله خامتا ئې د بل په اتلس نۀ ورکوله د خامتا لويې لويې خلکې او کميصونه او پرتوګونه به ئې اغوستل ، د وطن جوړې پنې او څپلۍ به ئې په پښو کولې ، ټوپۍ او د خامتا پګړۍ به ئې په سرولې ، ښځو به د رنګينه خامتا جامې او مشروبې ( مشروبې : د خپل کلي کور جولا به يو رخت جوړولو چې هغې ته به ئې مشرو وئيل ) پرتوګ به ئې اغوستل . خوراک هم ساده وۀ د ساده خوراک په وجه د خلکو صحتونه ښۀ وو دومره کمزوري نۀ وو . سيالۍ نۀ وې ، چائې نۀ وې ، سود کول ، شراب څښل او زنا ته ئې ډېر بد کتل . اخلاقاً دومره پرېوتي نۀ وو لکه اوس چې دي . د چا چې به زورور مېلمه راغے نو چرګ به ئې ورله حلال کړو . د غوړو نه ډکه ښوروا به ئې جوړه کړه . د غوا وو ، مېښو زيړ غوري به وو . سرې سرې پستې پړسبدلې ، خمبيره ډوډۍ به وې ، مازيګر به په بټ د جوارو نينې کېدلې ګوړه به ورسره خلکو خوړله ، په ډوډۍ کښې به د امير او غريب فرق نۀ وۀ .

د مېلمنو دپاره به بېله حجره هم وه دا اوچتې اوچتې ماڼۍ او سپينې سپينې بنګلې نه وې خو هغه خوشحالي او اسودګي چې په هغه ساده ژوند کښې وه نن په دې ښکلو ښکلو بنګلو کښې او په دې خوندورو خوراکونو کښې او ډولي جامو کښې نشته۔ مرضونه ډېر نه وو ، نر او ښځې په بدن سالم او تکړه وو ۔ د لوبو ډېر رواج وۀ ۔ قسم قسم لوبې به وې ، د پښتنو په لوبو کښې د هر قسم پريکټس (سپورټ) خيال ساتلے شوے وۀ ۔ د ميندو خيال پکښې وۀ ، د بار اوچتولو او وړلو خيال پکښې وۀ ۔ د ساه اخستلو د شپې ګرځېدلو لويه شپه کښې د ځان پټولو د مخالف فريق د لټولو خيال پکښې وۀ او همدا وجه وه چې د دوي صحتونه ښۀ او ډېر ښائسته وو ۔''[11]

باچا خان ډېر ساده طبيعت والا انسان وۀ هغوي په معاشره کښې د فضول رسم و رواج سخت خلاف وو ۔ په خپل تقرير او تحرير دواړو کښې هغوي خپل پښتنو ورونو خوېندو ته د سادګۍ او ورورولۍ درس ورکړے دے ۔ باچا خان به وې چې کوم خواهشات انسان کمزورے کوي هغه ختمول پکار دي۔

په دې حقله صادق ژړک ليکي :

''باچا خان د پښتنو هېواد د ټولو پښتنو شريک او ګډ هېواد ګڼلو ۔ هغوي د ټولو پښتنو تر منځ انصاف برابري او مساوات غوښتلو ۔ په هره ناسته ، هره غونډه کښې به ئې په ډاګه وئيل چې ''که پوره وي او که سپورهوي په شريکه به وي۔'' نوموړي په خپل کردار او عمل په خپل دور کښې جوته کړه چې د پښتنو او ټولو انسانانو تر منځ هېڅ قسم طبقاتي تضاد نشته ۔ او خپل ټول ژوند ئې د طبقاتي تضاد په ضد مبارزه کښې تېر کړو ۔''[12]

پښتانۀ د رسم و رواج ډېر پابند وو ، جائيداد به ئې خرڅولو خو رسم و رواج به ئې پوره کولو ۔ باچا خان به وې که دې ته اوس وائي چې د قامي ښېګړې دپاره لږه لږه چنده راټوله کړي نو بيا به ورسره پيسې نۀ وي خو د خپل فضول رواجونو دپاره ځان تالان کوي ۔ د سخات خېرات په حواله باچا خان خپل کتاب کښې ليکلي دي چې :

'' سخات به د مړي د حېثيت په اندازه وۀ که به موړ شتمن خان او مخوريز سړے وۀ سخات به ئې ډېر وۀ او مېله به پرې جوړه وه ملايان به ډېر وو که غريب سړے وۀ سخات به ئې کم وۀ ملايان به هم کم وو ۔ او که سخات نۀ وۀ ملايان به هم نۀ وو ۔ ګوړه ، صابن ، پټکي ، قرآن شريفونه او روپۍ به په مينځ کښې کېښودل شوې ۔ مشر ملا

صاحب به اول د مړي د وارث نه د مړي د ګناهونو د کفارې دپاره دا ځیزونه د صدقې او سخات په توګه ځان ته قبول کړل ـ ماته به دې سخات ګرځولو مراسم شاډوله ښکارېده ـ پردے ملا یو بل ته بخښي خدا ے او قام ته دوکه ورکوي ـ

په اسلام کښې دا ځیزونه نشته بله دا چې دا دومره مال بل ته ځرنګې بخښي او چې سړے ناداره او محتاجه هم وي ـ بله دا چې سړے مړ شي د هغه عملنامه خو بنده شي دا خېرات او سخات به ځنګه د هغه په حسناتو کښې لیکل کېږي ـ د خلکو په مغزو کښې ملایانو دا کښېنولې ده چې ګوندې خدا ے هم د دنیا د بادشاهانو په شان دے چې هغهٔ ته د ټیکس او ډالۍ ضرورت دے ـ دوي په دې فکر نۀ کوي چې خدا ے بې نیازه دے هېڅ شي او هیچاته محتاج نۀ دے ـ که خېراتونه دي که زکات دے که صدقات دي که لمونځ دے ، که روژه ده که حج دے دا ټول زمونږ د ښېګړې دپاره دي که ښۀ کوې هم د ځان دې دي او که بد کوې هم د ځان دې دي ـ که ښۀ کوې دنیا به دې هم اباده وي او په اخرت کښې به دې هم پکار شي او که بد کوې په دنیا کښې به حقیر او خوار ئې او په اخرت کښې به درته عذاب وي ـ"13

باچا خان په پښتني معاشره کښې د خپلو سپېځلو عقائدو او اصولو په رڼا کښې داسې بدلون راوستو چې د پښتنو تهذیب و تمدن ، ژوند ژواک ، لباس ، علم و هنر ته ئې نوې لاره اوښودله ـ هغوي سره د خپل پښتون قوم د معاشي بدحالي او د غریبۍ احساس وۀ ځکه باچا خان به همېشه د اعتدال او روا دارۍ تلقین کولو ـ

فضل رحیم ساقي لیکي :

" زمونږ قوم د رسمونو رواجونو په مرض کښې ګېر وۀ ـ په رسمونو رواجونو دومره خرڅونه کېدل چې لوے لوے خانان به قرضداري وو او په سودونو کښې به د هندوانو متازه وو چې مړے به وشو په هغې به سخاتونه ، خېراتونه، جمعې ، ځلوېښتي او کالونه په قرضونو او سودونو کېدل ـ باچا خان او خدائي خدمتګار تر ډېره حده ددې اصلاح وکړه ـ ملیان خو پرې خفه وو او په خدائي خدمتګاري به ئې قسم قسم فتوې لګولې خو د خلقو سترګې وغړېدې ـ"14

باچا خان د خپل ازاد سکولونو او مدرسو په ذریعه په پښتنو کښې شعوري سطح باندې د یو نوي ژوند اغاز اوکړو ـ دې ازاد سکولونوپه سالانه تقریباتو کښې به مشاعرې کېدلې ـ نر او زنانو دواړو به پکښې حصه اغستله ـ

'' په مرغز کښې جلسه وکړه او داد د خدائي خدمتګاري اوله جلسه وه او میا احمد شاه صاحب او زمونږ د کلي عبدالغفور په خوش اوازۍ به ئې نظم وې او د ماسټر عبدالکریم صاحب مشر ورور وۀ ـ دوي سره د باوردۍ یو څو خدائي خدمتګارو لاړو او د مرغز په جلسه کښې شریک شو ـ د ټولې علاقې خلک راجمع شوي وو میا صاحب پکښې تقریر وکړو او نورو خلکو تقریرونه او ښکلي ښکلي نظمونه ووئیل ـ ما چې اوکتل نو حېران شوم چې زمونږ د پښتنو په شاعرانو کښې د قومي جذبې دا تحریک ییځنګه راپېدا شو ـ ځکه چې د دوي په نظمونو به قوم کښې ډېر جوش او طاقت پېدا کېدلو ـ ''[15]

دې نه علاوه باچا خان په خپل کتاب ''زما ژوند او جدوجهد'' کښې د متلونو او محاورو استعمال هم بې دریغه کړے دے چې د پښتنې معاشرې د تهذیب و ثقافت عکاسي کوي ـ دلته مونږه یو څو متلونه او محاورې ''زما ژوند او جدوجهد'' نه راخلو ـ

**محاورې** :

1. اسمان ته سترګې نیول ـ مخ ۱۸۸
2. ابغ نبغ کېدل ـ مخ ۲۳۹
3. مسئله تاخ کښې کېښودل ـ مخ ۷۰۱
4. غوني زیګ زیګ کېدل ـ مخ ۲۲۲
5. اوږه په اوږه اودرېدل ـ مخ ۲۳۲
6. کرښه راښکل ـ مخ ۳۳۹

**متلونه** :

1. هوسۍ ښکر ګاټۀ غوږ ئې بائیلو ـ مخ ۱۹۹
2. رښتیا راشي نو دروغ پاتې کېدے نۀ شي ـ مخ ۵۴۰
3. ټول عمر د بل د پړق د لاندې تېر کړے وۀ ـ مخ ۷۳۲
4. څوک هاتیان ساتي نو دروازې لوئې پرېږدي ـ مخ ۵۲۵
5. لکه د لړم د بچو خپله مور خوري ـ مخ ۱۹
6. یوه خولۀ او یو موټے مخ ۲۹۷
7. په خولۀ یوه او په زړۀ بله ـ مخ ۵۲۳

ډاکټر شبېر زمان سیماب د باچا خان کتاب په حقله لیکي :

" باچاخان کی نثر نگاری میں پشتو محاورات کا استعمال بھی زیادہ ہے اور جگہ جگہ موقع محل کے مطابق معنی خیز محاورے نظر آتے ہیں ز جس نے نثر میں ادبی رنگ بھر کر نثر کا اعلیٰ نمونہ ثابت کیا ہے۔ مثال کے طور پر "میری زندگی اور جدوجہد" سے چند محاورے ملاحظہ ہو۔

1. صبر ته رسيدل يعنې صبر کا پیانہ لبریز ہونا۔
2. ملا تړل يعنې کمر کسنا۔
3. بازار تودیدل يعنې بازار گرم ہونا۔
4. بډې ورکول يعنې رشوت دینا۔
5. د خوبه رابيدارېدل يعنې خواب غفلت سے جاگنا۔
6. کرښه راشکل يعنې لکیر کھینچنا۔
7. ميرې لګيا کېدل يعنې جلدی میں ہونا۔
8. اسمان ته سترګې نيول يعنې اسمان کی طرف دیکھنا۔
9. دوه خپلې ، دوه پردۍ کول يعنې دواپنے دوپرائے۔

مطلب یہ کہ ان تمام تر خوبصورتی سے مزین ہے اگر باچاخان اس پر توجہ نہ دیتے اور محاوروں سے کوئی سروکار نہ رکھتے اور ایک سیاسی رہنما کی حیثیت سے صرف اپنے نظریے کا پرچار کرتے تو یہ خالص سیاسی تحریریں ہوتیں۔ اور اس میں کوئی ادبی جاشنی نہ ہوتی۔ لیکن یہ بات روز روشن کی طرح عیاں ہے کہ باچاخان کو ادب سے لگاؤ تھا اور ادب کے معنی و مفہوم، قدر و قیمت اور اہمیت کا اچھی طرح علم تھا۔ یہی وجہ ہے کہ پشتو زبان و ادب کے لئے ایسے نامور ادیب پیدا کئے جنہوں نے پشتو ادب کا دامن موتیوں سے بھر دیا۔ "[16]

د محاورو او متلونونه علاوه په دې کتاب کښې داسې ستائنې هم باچا خان ليکلي دي چې سوچه پښتني کلي وال رنګونه څرګندوي. لکه چې

'' حسينه ځوک به دې ژاړې وائي ، وائي حسينه درز لالي ! '' مخ[17]

هم دغه شان نظمونه او داسې اشعار هم باچا خان په دې کتاب کښې شامل کړي دي چې پښتون قام د جديد علم و ادب نه روښانه کوي. د خپل کتاب '' زما ژوند او جدوجهد'' انتساب باچا خان د مخفي صاحب د نظم نه کړے دے چې :

١ خاونـــده تـــهٔ ودانـــه کـــړې زمـــونږ د يـــو والـــي حجـــره
يـــو ځـــاے پکښـــې درِ ځانـــه کـــړې د پښـــــتو ډلـــــه خـــــوره

یــو زړهٔ یــو ســایو شــانې کــړې دې بېل او بېل پښتون لره مخ ۱

په بل ځاے کښې دي چې:

۲: ما وې دا سړي زمونږ قوم کښې خلل دي
اوس دې ولید جې د ربیرې خاوند غل دي

مخ ۳۴۰

۲ جنگ د ازادۍ له همېشه زلمي وتلي دي مخ ۳۲۹

۴: کــــه د زلمــــو نــــه پــــوره نــــهٔ شــــوه
فخـــر افغانـــه جینکـــۍ بـــه دې گټینـــه

مخ ۴۱۸

۵: ســـــتا لـــــه میچنـــــو ، نـــــهٔ ویربـــــږو
اے ســـــکاره ولـــــې مـــــویز ئـــــې

مخ ۴۳۱

۲: د انقلابـــــه شـــــم ځـــــار ځـــــار
کـــه څـــوک مـــې ســـر کانـــدي پـــه دار دار

مخ ۵۵۳

۷:- د زړهٔ پـــــه بـــــاغ مـــــې رږلـــــۍ وشـــــوه
بویـــه چـــې بیـــا ســـپرلي راځـــي ســـپړي گلونـــه

مخ ۷۴۰

توهمات:

باچا خان په خپل کتاب ''زما ژوند او جدوجهد''کښې پښتنې معاشرې کښې چې کوم توهمات دي د هغې ذکر ئې هم کړے دے۔

**توهمات** :

۱:- '' زما د مور او پلار اولاد نۀ پائېدۀ نو دوي په ډېرو زيارتونو ، باباګانو ، ملايانو باندې ګرځېدلي وو هغوي ورته وئيلي وو چې خدا ے پاک به زوے درکړي او زوے مو وشي نو غوږ به ئې سورے کوئ او د سرو زرو والۍ به پکښې اچوئ او بل تر اوو کالو پورې کال په کال د سپينو زرو اوړۍ ورته په غاړه کښې اچوئ چې د اوو کالو پوره شي نو بيا به ترې دا اوړۍ او والۍ اوباسئ او د خدا ے په رضا به ئې ورکوئ۔''[18] (مخ ۱۸)

۲:- '' زۀ چې به د شپې د مور سره اودۀ وم نو په شپه کښې به چې راويښ شوم نو به مې وژړل او چې نۀ به چپ کېدم نو مور به راته وئيل چې هغه دے ''بَو'' راغے هغه دے ''پيرے'' راغے نو دا زما په ذهن کښې تر اوسه پورې د ''بو'' او '' پېرې'' دا ويره پرته وه حالانکې زۀ په دې خبره پوه يم چې نۀ ''بو '' شته او نۀ بلا شته۔''[19] (مخ ۱۹)

۳:- زما وروسته غني چې د پنځو کالو وۀ ناروغه شو ۔ غني ډېر ښکلے وۀ د مور ورسره ډېره مينه وه ډ ےر به ئې ورته ژړل۔ ما به منع کوله او د صبر تلقين به مې ورته کولو ۔ يوه ورځ د غني رنځوري غټه شوه مور ئې ورته د کټ سر ته ناسته وه ۔ ناڅاپه ئې مور پاڅېده د زوے له کټه چاپېره وګرځېده او سر ته ئې ودرېده او لاسونه ئې په دعا پورته کړل۔ په ژړا ئې اووئيل چې ا ے خدايه ددۀ مرض په ما کښېږدې او دې ماشوم ته شفا ورکړې۔ د خدا ے يو عجيبه حکمت وۀ په سبا دا ناجوړه شوه۔ د غني مرض به ورځ په ورځ کمېدو ۔ غني جوړ شو او مور ئې ځوانمرګه شوه۔''[20] (مخ ۲۰)

څنګه چې مونږ وړاندې ذکر اوکړو ډېر په معيارانه انداز پښتون کلچر او فولکلور باندې رڼا اچولې ده۔ يو ځا ے هغوي ليکي :

'' زمونږ په کوټه کښې يوه دوکانچه (څوتره) وه ددې دوکانچې په منځ کښې به انغرې وو په هغې به هم پخلي کېدۀ۔ ددې نغرو يوې خوا ته به پوزکي غوړيدلي وو لمڅي به پرې دپاسه پراتۀ وو ۔ چې ډوډۍ وخت به شو نو زنانه ۇ به مونږ ته ډوډۍ واچوله او چې مونږ به خوړله نو بيا به هغوي خوړه ۔ په هغه وخت کښې نارينه ۇ د زنانه ۇ سره

ډوډۍ نه خوړه او دا ورته معیوب کار ښکارېدۀ . په ژمي کښې به مونږ اکثر غټې وریژې خوړلې . وریژو سره به مو سوچه غوړي ، اچار ، شربت کا کله قورت خوړل . په اوړي کښې به مو اکثر په مستو شکره واچوله . د جوارو سره ډوډۍ به مو په مستو کښې ماته کړه وبه مو خوړه او چې کله به سبق ته تلم نو مور به راله د غنمو په ډوډۍ کوچ او شکره پورې کړل . لیکن دا خوراک د عامو پښتنو نۀ وۀ داد د هغو خلکو وۀ چې خانان وو . غریبانانو به سړه ډودۍ او شلومبې خوړلې .

زمونږ ددې کوټې سره زمونږ یو ښکلے منډو هم وۀ او ورسره یوه ډیوډۍ چې په هغې کښې د بستو بیټک هم وۀ . زمونږ په دې کوټه کښې لوے لوے کند وان هم وو چې په یو کښې به غنم وو به همدې کوټه کښې به خومان وو چې په یو کښې وریژې او په بل کښې شکره او ګوړه ، اوړه ، مرچکي به پراتۀ وو . چې د روژې میاشت به راغله نو زمونږ ډېره مالداري وه او ډېر پئی به وو مور به مې اکثر پیشمني کښې کیر پخو . "21

باچا خان یو پوهـ او زیرک پښتون وۀ ځکه د هغوي په لیک کښې هم دغه پښتني اقدار شامل دي . هغوي د پښتو مورنۍ ژبې ودې دپاره ډېر محنت کړے دے او خپل پښتون قام ته ئې د خپلې ژبې د اهمیت احساس ورکړے دے .

د باچا خان په کتاب "زما ژوند او جدوجهد" کښې د پښتنو د حجرې ، جومات ذکر هم شته او ورسره د پښتنو د ثقافت ، دود دستور ، ورورولئ ، تهذیب و تمدن هر پهلو باندې رڼا اچولې شوې ده . د حجرې د اهمیت په لړ کښې باچا خان لیکي :

" حجرې به د خلکو نه ډکې وې په حجرو کښې به تتي کېده پټه کونجکه به د شپې په حجرو کښې کېده لونډان به د شپې په حجرو ځملاستل او د وادۀ خاوندان به کورونو کښې اودۀ کېدل . په حجرو کښې به تر ناوخته ځوانان په لبو او ګپ شپ لګیا وو . دومره کارونه او مصروفیت نۀ وۀ . ژوند ډېر پیچیده نۀ وۀ . خودغرضي نه وه . صفا سوتره ژوند وۀ . په اخترونو کښې به لویه خوشحالي وه . خلکو به د یو بل کره د خوراک څیزونه لېږل . ښځو به په کورونو کښې ټالونه اچولي وو. "22

باچا خان په خپل کتاب کښې هغه وخت پښتنه معاشره کښې کومې لوبې کېدلې د هغې ذکر هم کوي . هغې سره به د خلکو Physical Exercise کېدو . نو صحتونه به ئې ښۀ وو . بیمارۍ نه وې .

" زمونږ په کلي کښې کال په کال زوروره کبډي کېده . د لیرې لیرې علاقو ځوانانو به

پکښې برخه اخسته. په زرګونو تماشګیر به ورته راتلل. نورې لوبې هم وې لکه انګۍ ، سرنګۍ، لنډي مارۍ، پټ پټاني ، بنګړیواتي ګیټکه ، پټه کونجکه ، چیندرو او نور په حجرو کښې تاشونه هم کېدل د غوزانو لوبې هم کېدې. ما سره ددې ټولو لوبو شوق وۀ.''[23]

دغه شان د غم ښادۍ ذکر هم باچا خان کړے دے چې پښتانۀ څۀ رنګه خپل غم ښادي او رسمونه رواجونه کوي. د باچا خان کتاب ''زما ژوند او جدوجهد'' لوستونکي تقریباً هر پښتون دې رسم و رواج او پښتني اقدارو سره اشنا دے. دا رواجونه زمونږ د کلچر او فولکلور حصه ده.

'' چې د وادۀ بندوبست به شروع شو نو د خپلو خپلوانو او کلي محلت جینکۍ به لا د وادۀ نه څو ورځې مخکښې د هلک کالۀ ته راغونډېدې ټنګ ټکور به ئې کاوۀ.

چې سبا به ئې ډولۍ راوړله په دې شپه به ښځې په جمع روانې شوې نکریزې به ئې په سر وې مشالونه به ورسره وو شمعې په پکښې بلیدې لوے لوے مشالونه به ئې جوړ کړي وو سپین پړک به وۀ په لاره به ئې سندرې وئیلې. د ناوې کور ته به ورسیدې. اول به ئې نکریزې وګډولې او بیا به ئې هغه نکریزې هغه جینۍ ته په لاسو او پښو پورې کړې. ناوې به د څو ورځو نه په ګوټ کښې ناسته وه. همزولې به ترې چاپېره وې. سبا له به نر او ښځې په ورا او جنج لاړل ښځې به دننه ورغلې او نارینه به بهر په حجره کښې کښېناستل. ملا به راغے نکاح به ئې وتړله مبارکي به وشوه ډم به ډول وواهۀ. ډم به ښادي والاو ته آئینه ښودله او پیسې به ئې ټولولې. نکاح به وتړل شوه هلک به د سخر کور ته ننوت. په پالنګ به ئې وخوت جامې به ئې بدلې کړې. نوې جامې به ئې واغوستې خپل خپلوانو او دوستانو به پرې پتاسې ، غوزان او پیسې نوشلې او ماشومانو به ټولولې.''[24]

باچا خان مونږه ته صرف د یو سیاسي شخصیت په حقله نه دے ښکاره بلکې د یو عام پښتون په حیث خپلو خلقو ته او خاصکر پښتنو ته په خپله معاشره کښې د خپلو اقدارو قامي ازادي ، خپل شناخت ، علم و هنر ، حیثیت په ډاګه کړے دے. د پښتنو د ژوند ژواک، تهذیب و تمدن او ثقافت ډېر جوړ او وسیع دې. زمونږ په کلیوال ژوند کښې اوس هم دا رنګونه شامل دي کوم چې باچا خان په خپل کتاب کښې ذکر کړي دي. باچا خان ډېر په ښکلي انداز او اسان الفاظو کښې دا هر څۀ مونږه ته رامخې ته کړي دي چې هر پښتون ورنه استفاده ترلاسه کړي. مونږه ټولو پښتنو له پکار دي چې د خپل کلچر او فولکلوري اقدار د ورکېدو نه بچ کړو ځکه چې په پښتنه زمکه کښې د اصلي ثقافت او کلچر جرړې پټې دي.

# حوالې

[1] Harper, Dougles, Online Etymology Dictionary 2001

[2] احمد پراچہ، ثقافت کوہاٹ، گل اعوان پرنٹرز، اسلام آباد، ۲۰۱۰ء، ص ۲۴

[3] ډاکټر سلمیٰ شاهین ، روهي سندرې ، دویم جلد ، ۱۹۹۴ء ، مخ ۱۸

[4] ډاکټر مبارک علي ، ''جدید تاریخ'' فکشن هاؤس ۱۸ مزنگ روډ لاهور، ۲۰۰۱ء، مخ ۱۹۱

[5] پروفېسر داور خان داؤد ، خوشحال او فولکلور ، پښتو اکېډيمي پېښور یونیورسټي، فروري ۲۰۰۲ء ، مخ ۱۳

[6] شفیع الرحمان اپریدي ، د اپریدو فولکلور ، یونیورسټي بک ایجنسي خېبر بازار پېښور ، ۲۰۲۳ء، مخ ۱۸

[7] ډاکټر بشرٰی خاتون ، د صوابۍ د ثقافت هنداره ، دي پرنټ مېن پرنټرز اینډ پبلشرز پېښور، ۲۰۱۲ء، مخ ۸۲

[8] ډاکټر هدایت الله نعیم ، فولکلور د یو علم په حېث ، مشموله پښتو ، پښتو اکېډيمي پېښور یونیورسټي ، مئ ـ جون ۱۹۹۷ء ، مخ ۳۹

[9] ډاکټر بشرٰی خاتون ، د صوابۍ د ثقافت هنداره ، مخونه ۵۱ ، ۵۲

[10] همدغه اثر ، مخ ۹۱

[11] عبدالغفار ، ''زما ژوند او جدوجهد'' ، ۸/ اکتوبر ۱۹۸۴ء ، مخونه ۱۲ ، ۱۳

[12] صادق ژړک ، د فخر افغان ځانګړې ، جنوري ۲۰۱۲ء ، مخ ۹۵

[13] عبدالغفار ، ''زما ژوند او جدوجهد''، مخونه ۴۰ ، ۴۱

[14] فضل رحیم ساقي،''کفایت شعاري'' باچا خان ریسرچ سنټر پېښور ، ۲۰۱۲ء، مخونه ۱۸ ، ۱۹

[15] عبدالغفار ، ''زما ژوند او جدوجهد''، مخونه ۳۲۲ ، ۳۲۷

[16] منیب الرحمان "افکار باچاخان وولی خان ایکسویں صدی کے تناظر میں" ایڈون گرافکس، جنوری ۲۰۲۵ء، مخ ۸۹

[17] عبدالغفار ، ''زما ژوند او جدوجهد''، مخ ۳۸

[18] همدغه اثر ، مخ ۱۲

[19] همدغه اثر ، مخونه ۱۸ ، ۱۹

[20] همدغه اثر ، مخ ۱۳۴

[21] همدغه اثر ، مخونه ۱۹ ، ۲۰

[22] همدغه اثر ، مخ ۳۲

[23] همدغه اثر ، مخونه ۳۲ ، ۳۳

[24] همدغه اثر ، مخونه ۴۹ ، ۵۰